مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ژباړه: ع/ شیرزوی ۲۰۲۱/۰۳/۱۰

# په افغانستان کې د جګړې او نا امنيو مهم علتونه

## څلورمه او پاتې برخه:

انګليسانوډير کلونه ځانونه قسماً د افغانستان د سیاست څخه لیرې وساتل تر څو په ۲۰۰۱ م کال کې دبُن په کنفراس کې د افغانانو له پاره انګريز يې د سرپرست او متوالي په توګه د خاشخاشود کرلو، توليد او مخدره توکو د مقابلې له پاره په افغانستان کې وټاکل شوه.انګليس لومړني هيواد وه چې د هلمند ولایت د موسی قلعه په ولسوالي کې د طالبانو سره هوکړه ليک امضا کړاو ددې سيمي امنيتي چارې يې طالبانو ته وسپارلي او خپله ځواکونه يې د امنيت يوې خوا وسائل او پخپله دوې ( انګليسانو) د موسی قلعه د کانو په سپړولو باندې لګه :« اورانیوم » باندې پيل وکړ همدارنګه انګريزانو د امريکايانو څخه دمخه د افغانستان د خلکو دوښمانانو سره معامله وکړه او طالبان يې د يوې تاثير اچوونکې ډلې په حيث په رسميت ويژندل.
انګليسان چې همدا اوس ځانونه په اصطلاح د پاکستان پر پرتله د افغانستان د خلکو ملاتړې بولي د ډيورند د فرضی کرښې ترسيمولو تخم يې د سيمې د خلکو تر منځ وکره چې ددې فرضی کرښې رسمول د کابل او اسلام آباد تر منځ يو د ډيرو مهمو چارو څخه دی چې د ۱۹ پيړی په آخرکې ۱۸۹۳ م کال کې د انګليس د يوې چلواتې ( دسيسه ) د تزاری روسي سره د سيالی په وجه د امير عبدالرحمان خان او انګريز له خوا زاړه ډيپلومات ( هنري مورتيمرديورند) امضا شوه.
د نولسمي پيړی په پايله کې تزارې روسيې او برتانيا په افغانستان کې د خپلُو ګټو د تامينولو په خاطر هندوستان ته د ننوتلو دروازې په سترګه د منځنی هيوادو ته نقشه رسموله. لومړې روسانو د يوه سياسي تړون په قالب کې د وخت حاکم امير دوست محمد خان سره په افغانستان کې د کورنې لاسوهنې زمينه يې برابره کړه، دروسي هيواد اد کړنه برتانيا ته د منلُو نه وه او ددوې دا کړنه ددې سبب شوه چې پر عبدالرحمان خان زور او فشار راوړی او د پښتونستان د ويش نقشه ( د ديورند فرضی کرښې ) نقشه پلې کړی. برتانيا د هندوستان د سرحداتو د تعينولو په بهانه چې د انګليس تر استعمار ( ښکيلاک ) لاندې وه امير يې دې ته مجبور کړ چې دا سند امضا کړی او پښتون قوم په سيمه کې په دوو برخو او ټوټو وويشي، دا فرضی ليکه د يوې لويې فتنې او اختلافاتو تومنه د افغانستان، هندوستان او برتانيا تر منځ وګرځيده، انګريز د يو منظم پروګرام لاندې د افغانستان څخه يې يوه لويه برخه پښتانه او د بلوچستان څخه هم پرې کړه او ورسته د هندوستان د تجزيې په ۱۹۴۷ م کال يې داسې عمل تر سره کړچې پاکستان د هندوستان سره د ځمکې مشکل لری او د افغانستان سره هم.
په حقيقت کې د انګليس دا فتنګر عمل پښتون ميشتې سيمې پر ددو برخو وويشلې چې يوه برخه يې په افغانستان او بله يې په هندوستان کې د انګليس تر استعمار لاندې پاتې شوې. په تيرو کلونو کې د امريکا، انګليس او ورسره ملګرو يې او ددوې نظامی حضور په افغانستان کې دا نه چې د بهرنيواو وطني پردې پالو په لاسونو بل شوې اوريې مر نه کړنوريې هم د پطرولو سطلونه پرې واړول. تر څو ددې ناروا لارې څخه د نا امنيو په هياهوې کې د هيواد زيرمې او معدنونه چور او تالان کړی، اوس برتانيا په هغه لټه کې دې تر څو د افغانستان د ميرنې ولس څخه د خپل درنې او ننګيې ماتې بدل واخلي.

## چين :

د چين هيواد د غوری مسلمانانو ځواکمن کيدو او د هغوی سمبالښت په اسلامی تندو افکارو يو لړ ستونزې د چين هيواد ته راټوکولې دي، د چين هيواد د شانګهای په غونډه کې هڅه وکړه چې هغه هيوادونه وهڅوي چې د افغانستان په صلح کې خپلې ګټې موندلې شي،د شانګهای تړون په ۲۰۰۱ م کال رامنځ ته شوه غړي هيوادونه يې روسيه، چين، ازبکستان، تاجکستان، قزاقستان،قرغيزستان دي. دا يو دولتي سازمان دی چې د ګډو امنيتي مرستو پر بنياد رامنځته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شوی دی، یو لړ هیوادونه لکه: مغولستان، پاکستان او ایران د څارونکو په توګه دې سازمان سره یو ځای شویدی دي. خو کومه صلحه چې روسیه، چین او د مرکزی آسیا هیوداونه یې تعقیبوي کوم مثبته پایله به ونه لری.
د چین هیواد په افغانستان کې د خپلو اقتصادي ګټو له پاره څو اړخیزه هڅو ته دوام ورکوي خو د ګران افغاستان ناوړه امنیتي حالاتو دوه لویې او بنسټیزي پروژې لکه : ( مس عینک او د آمو د سیند) د ګازو پروژو ناکامیدل وه.
د چین هیواد د طالبانو سره څو تاکتیکي تړونونه تر سره کړی، طالبانو چین ته ډاډ ورکړی دی چې د « ایغوریانو» سره به هیڅ ډول مرسته نه کوي، د چین هیواد پدې هم باوری دی چې د امریکا د ماتې ورسته به دوي ته ډیر ښه فرصت په لاس ورشي چې د ( ګوادر او کندهار) په لویه لاره پانګونه وکړی، ځکه چینایان د امریکایانو هرې ګړنې ته د شک په سرګه ګوري.د چین د هیواد ډیري مهمې موخې په افغانستان کې دا دي چې ثبات او امنیت بیرته راوګرځي او د یو لوی لوبغاړې په بڼه پدې سیمه کې و ځلیږي او د هر ډول بهرنیو لاسوهنومخه په هیواد کې ونیسي.
پدې اړه یو چینایي کار پوه ( اند رواسمال ) داسې وایې.
(که چیري تاسې غواړی چې د مرکزی آسیا په سیمه کې د یوې اقتصادي سرچینې د خلا صیدو په تمه یاست په پیل کې تاسو باید په افغانستان کې د ضرورت وړپانګونه تر سره کړی، د چین هیواد هیله من دی چې خپله ویره په اقتصادي، نظامي، سیاسي، تجاری او امنیتي پلوه لیرې کړی) کار پوهان پدې باوری دي چې د چین او هندوستان مرستې یو صریح عکس العمل به د امریکا او پاکستان له پاره وي، دا ځکه چې لوړپوړې امریکایان نه غواړي چې د سیالي کمربندې پروژې په رامنځ ته کیدو یوه بله لاره د چین، امریکا او هند او بله اقتصادي پروژه چې د آسیا لویه وچه ده د سړې جګړې په میدان بدل کړي او د بلې خوا پاکستان هیڅکله نه غواړي چې د هندوستان هیواد دې په افغانستان کې نفوذ ولری.

د څلورمې برخې پای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ